ماخذ تحقیقی مجلہ

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-01

OPEN ACCESS

CC BY NC

**ثناءالله**
ایم فل (پښتو) ریسرچ سکالر، پښتو ډیپارټمنټ،بلوچستان
یونیورسټي کوئټه
**ډاکټر نصیب الله سیماب**
پروفیسر،پښتو ډیپارټمنټ، بلوچستان یونیورسټي کوئټه

# پر پښتني او براهوي ټولنه(د نکل په ډګر کښني) دګلوبلائیزیشن (نړیوال کلی) اثرات

**Sana Ullah**
MPhil Scholar, Department of Pashto, University of Balochistan Quetta.
**Dr. Naseeb Ullah Seemab***
Professor, Department of Pashto, University of Balochistan Quetta.

***Corresponding Author:**

# The Impact of Globalization on Pashto and Brahui Folktale

This study is about the impact of Globalization on the Pashto and Brahui literature (Folktale). As the world has become a Global village, so it has linked the whole world in economic, cultural, political and social aspect. Similarly, the world culture, languages have great impact on each other in translatory form. This study focuses that how the Globalization has decreased the folktale narratory or oral narration among the Pashtun and Brahui communities. This research investigated that the Pashto and Brahui Folktale has limited only to wide range of publications only in Book forms. Finally this study suggests that the Pashto and Brahui folktale should be Filmised, Dramatized, so that these may be generalized and made acquainted to a larger public contact and awareness and in this way these folktales will surely be preserved for the future in era of Globalization.

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-01

ماخذ تحقیقی مجلہ

**Key Words:** *Pashto, Brahui folkṭale, Globalization, Folkṭale narration, Folkṭale Dramatization, Folkṭale preservation.*

تر ټولو د مخه پکار دی چي موږ خپل په دې لیک کښي دګلوبلائیزیشن (نړیوال کلی) پيژنده اوکړو چي دا توری یا اصطلاح د کوم مقصد دپاره په کار راوستل کيږي اوزموږ د وطن د ټولنو (پښتو او براهوي ) پر ادب يې خپل کوم اثرات پرې ايښي دي۔

نړیوالتوب په حقیقت کښي دیهودي او امریکايي استعمار هغه فکري او اقتصادي جوړښت دی چي د امریکا متحده ایالات يې قيادت کوي او هدف يې په ټوله نړۍ کښي اقتصادي، سیاسي، فرهنګي، ټولنيز، ديني، قومي او وطني امتیازات له منځه وړل او د امریکا او اسرائيلو له اهدافو سره سم نوی پانګه وال نظام پلې کول دي.

د نړیوالتوب پلویان پر رسنیوباندي ډېرپام ساتي او غواړي له همدې لاري په ځانګړي توګه اسلامي ثقافت له منځه یوسي او پرځای يې غربي فرهنګ پلې کړي، د دې لپاره د ګلوبل کلتور (Global Culture)اصطلاح هم کارول کيږي، همدې کلچر اوس له لوېديځه تر ختيځه د نړۍ پر ډېرو هېوادونو پراخه اغېزه کړې ده۔

پدې حقله زه ده یو لیکوال نظر وړاندي کوم چي هغه يې د ګلوبلائیزیشن په باب لري:

”ګلوبلائزیشن (نړیوالتوب) د غربي نړۍ له خوا را پېل شوی دی۔ نو لازمه خبره ده چي د غرب اثرات به په نورو ټولنو ارو مرو لوېږي او دغه اثرات به ده نورو ټولنو تهذيب او تمدن تر ډېري اندازې پوري له منځه وړي۔“ (ژړک،۲۰۱۷،مخ۳۲۸)

دااصطلاح هغه وخت پېل شول کله چي اروپا(یورپ) د خپل علمي او اقتصادي پرمختګ دپاره د نړۍ له نورو بازارونو سره خپل سوداګريزي اړيکي ټينګي کړې. دځينو ماهرينو دا خیال دی چي ګلوبلائیزیشن (نړیوال کلی) اصطلاح د لومړۍ نړیوالي جګړي وروسته د لويو هيوادونو ترمنځ د آزاد تجارت د اصولو پر بنسټ د اقتصادي اړيکو د رامینځته کولو په خاطر پېل شوې ده۔ . په همدې توګه، د یو نظر له مخي، دا اصطلاح په کال ۱۹۶۰ لسيزه کښي هغه وخت پرمختګ وکړ کله چي د نړۍ يو شمېر طاقتورو هيوادونو د سپوږمکۍ ټيکنالوجي ترلاسه کړه، چي په نتيجه کښي يې دمواصلاتي اړيکوسيسټم خپور شو او په دې توګه د تجارتي اړيکو په رامینځته کولو کښي يې مهم رول ولوباوه.

د نړیوالتوب مفکورې نه یوازې په اقتصادي ژوند اغیزه وکړه، بلکې د ملتونود سیاست او امنیت په برخه کې يې هم اغيزې ليدل کيږي او د بېلا بېلو ملتونو پر ادب باندي يې هم خپل اثر پرې ایښی دی۔ کله چي ملتونه خپل په زړو

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-01



رواياتو باندي روان وو او مدنيت خپل اغيزي نه وي پر کړي نو نړيوال کلي خپل د ټيکنالوجي له په زور هغه زاړه او لرغوني روايات په جديدو رواياتو باندي بدل کړل۔ که څه هم د نړيوالتوب مفکوره د يوخاص مرام د حاصلولو دپاره او خپل تسلط پر ټوله نړۍ باندي د قائم ساتلو دپاره جوړه شوې وه خوزما په خيال د وده کونکوهيوادو ژبو په ګټه باندي بدله شوله۔ د دنيا ټول خلګ ديو بل په ښه او بد خبر شول۔ يو دبل په عقايدو، رسم و رواج، دين او مذهب ، کړه وړه او د ناستي پاستي په طريقو سره په ښه ډول بلد شول۔ د ټيکنالوجي آسان او پراخ استعمال له وجې د انسانانواړيکي يوتر بله نوري هم مظبوطي شولې۔ ددغو ټولو لاملونو له وجي خود به د نړۍ د ملتونو ادب هم ډېر زيات متاثر شوی وي۔ په ادب کښي د زړو رواياتو او نظرياتو په جديده بڼه کښي اوښتل او بدلېدل د نړيوالتوب يو لوی اثر ګڼل کيږي۔

لکه څنګه چي نړيوالتوب د ټولي نړۍ ادب متاثره کړی دی،دغه رنګه ددې سيمي ادب يې هم خپل په رنګ رنګولی دی اوپه خاصه توګه يې د نکلونو د اورېدلو په ارزښت کښي يې کمبوت راوستلی دی ۔ اوس خلګ د نکلونو اورېدلو ته هيڅ وخت نه لري۔ ماشومان او لويان ټول د جديدي ټيکنالوجي په استعمال کښي هروخت اخته ښکاري۔ زاړه روايات کرارکرارله منځه په تلو دي۔ ځکه خو ښاغلی ليکوال سيال کاکړ صيب په خپل کتاب کښي د نکلونه او ننی عصر تر سر ليک لاندي وړاندي کوي چي؛

> " دا د راډيـــو زمانــــه ده۔ د ټيلـــي ويــــژن دور دی،
> دا د فلمونـــو عصـــر دی۔ خلـــګ پـــر کـــور ناســـت د
> راډيـــو او ټيلـــي ويـــژن پـــه وســـيله هـــر څـــه اوري او
> هـــر څـــه ويني۔ د عصـــري انکشـــافاتو پـــه وجـــه
> زمـــوږ فولکلـــوري نکلونـــه خپـــل ارزښـــت لـــه لاســـه
> ورکـــړی دی۔ يـــوه زمانـــه هغـــه وه، چـــي مـــوږ بـــه د
> خپـــل کلـــي او پـــردي کلـــي و نکلچـــي تـــه مجبـــوره
> وو، چـــي نکلونـــه راتـــه وکـــي۔ خـــو اوس بيـــا يـــو
> داســـي دور راغلـــی دی، چـــي مـــوږ د راډيـــو پـــه
> څپـــو کـــي ريـــډيائي داســـتانونه او ريـــډيائي ډرامونـــه
> پر کو ناست اورېدلای سو۔
> مـــوږ دا نـــه وايـــو چـــي پښـــتو نکلونـــه ګرســـره کيـــږي
> نـــه۔ البتـــه پـــه ښـــار يـــا تـــوکي يـــې اثـــرات کـــم ســـوي
> دي۔ زمـــوږ کليوالـــو ورونـــه تـــر اوســـه پـــوري
> نکلونـــه خوښـــوي او خپـــل ســـات پـــه تيـــره وي۔ خـــو
> دومـــره ده چـــي کـــم کلـــي تـــه راډيـــو رســـېدلي ده او

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-01
ماخذ تحقیقی مجلہ

یــا د پــوهني پلوشـــي ورغلـــي دي، هلتــه پښـــتو نکلونـو خپـل قيمـت څـه نـه څـه لـه لاسـه ورکـړی دئ۔"

(سیال کاکړ،۱۹۷۹،مخ۳۷،۳۶)

کله چي انسانان خپل په فطري ژوند کښي خپل وختونه تېره ول نو د ژوند په اړه ټول مظاهر سپېڅلی او ساده ورته ښکاره کېدل ۔ په يوه معمولي شي کښي به د انسان يو غټه تلوسه پرته وه ،انسان به پرې مشغوله کېدی او خوند به يې ځيني اخستی،خو کله چي پر انسان د جديدي دنيا باد ونښتی او د ماډرن ټيکنالوجي سره مخامخ شو نو کرار کرار دده دزړه اوذهنه څخه د زړو او لرغونوشيانو په قدرو کښي کمبوت راغلي او پام يې په جديد سائنسي افکارو او انکشافاتو باندي شو۔ او دا سائنسي افکار او انکشافات د ننني عصر ضرورتونه دي۔ اوسنی دور د انټرنيټ او د موبائيل دور دی ۔ اوس که د نړی په يوه کونج کښي څه پېښه اوشي نو د نړیټول وګړي خاص او عام سم دستي په خبرېږي ،نو ځکه د پخواني داستانونو او نکلونو په ارزښت کښي کمی راغلی دی او ځای يي د ننني عصرد جديدي ټيکنالوجي انکشافاتو د انټرنيټ په شکل ، د موبائيل په ښکل نيولی دی ۔ د پخوا زماني اولسي نکلونه او داستانونه چي د مافوق الفطرت عناصرو يوه ننداره پکښي کېدل، د اوس محال په سائنسي فلمونواو ډرامو باندي بدل شوي دي۔ اوس د نړی زيات خلګ د ټيلي ويژن او انټرنيټ دلاري په سياسي ،سماجي، اقتصادي خبرواترو، تجزيواو تبصروباندي خپل ساعت تېره وي ۔ د پخوا زماني نکلونه په جديد سائنسي فلمونواو ډراموباندي بدل شول۔ اوس هم چي په کوموټولونو باندي د مدنيت اغېزي نه دي شوي او هغه په غرونواو رغونو کښي ژوند کوي، نکلونه خپل د ساعت تېري او پوهي يوه په زړه پوري وسيله ګڼي۔

سرور سودايي د سيد عابد شاه عابد کتاب " اولسي نکلونه" د سر ليک لاندي د نکلونو په ډګر کښي د نړيوال کلي اثر څه په دا ډول بيانوي ؛

"پـه کـورو کښـي زړو ښـځو نـه يـواځي د سـاعت تيـري ديـاره خپلـو ماشـومانو او لمسـيانو تـه دا نکلونــه اورول بلکـي د هغـو د تربيـت او پــه ښــه او بــد د پوهولــو يــوه ذريعــه هــم ده۔ دوخــت ســره ســره د معاشــرې د قــدرواو د ضــرورياتو لــه کبلــه اوس پــه کــورو او کلــو کښــي دا رواج پــه ختمېــدو دی او دا کـــردار اوس کتابونـــه، اخبارونـــه، ريـــډيو او ټيلـــي ويـــږن ادا کـــوي۔ ځکـــه دا ډېـــره ضـــروري خبـــره ده چـــي پـــه اولســـي ادب کښـــي هـــر شـــی چـــي

ماخذ تحقیقی مجلہ
ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-01

مـوږ تـه دا وخـت پـه لاس راتـلای سـي هغـه زر
تر زره خوندي کړو.“

(سرور سودايي،۱۹۷۲،مخ۵،۶)

په دې دنيا کښې چې هره فلسفه او يا هره نظريه د مقتدرو قوتو له جانبه جوړه شوې ده ، هغه خپل خاص مقاصد او اهداف درلودلي دي. ددې خاص مقاصدو او اهدافو د پوره کولو دپاره دغه زوره ور قوتونه د نړۍ باقي مانده ملتونه خپل د تسلط لاندې راوستل غواړي ، چې هر څه يې ددوی په کنټرول کښې وي . يعني دغه قوتونه ټوله دنيا که له ترقي سره مخامخ ملتونه دي او که د ترقي په منډه کښې روان ملتونه دي، ټول خپل د اثر لاندې د راوستلو بېلابېلې هلې ځلې کوي. ګلوبلائيزيشن (نړيوال کلی) به خامخا خپل خاص مرام او اهداف لري ، خو ددې ټولو خبرو برسيره دا هم يو حقيقت دی چې په نننۍ دور کښې يوه ټولنه هم داسې نشته چې ددې د اثره دې خلاصه وي. ټول ملتونه د جديد دور د مشينې آلاتو څخه په زړه پورې کار اخلي. سفر د( تلو راتلو) وسيلې دمياښتو د مزلوڅخه په ساعت (ګهنټو) باندې بدلې شوې. اوس سړی د کمپيوټر د ماوس په يو کلک سره هر رنګه معلومات که سائنسي وي يا دولتي ، په يوه دقيقه (سيکنډ) کښې په آسانه توګه تر لاسه کولای شي. يعني د ژوند هرې لارې چارې د جديدې ترقي سره مخامخ شولې. نو پداسې حال کښې لازمه ده چې زاړه روايات په جديد او نوي رواياتو باندې بدليږي، خو د ملتونو کوم چې بنيادي اساسي شيان دي ، بايد هغه ټول دې خوندي کړل شي او دا ذمه واري د نن سبا په لوستوځوانانو پورې اړه لري چې د نړۍ وال کلي څخه هر رنګه ګټه تر لاسه کړي اوددې سره سره خپل زاړه او لرغوني ثقافتي، کلتوري، ادبي، سياسي،مذهبي او معاشرتي يعني هر رنګه روايات محفوظه کړي اود سائينس او ټيکنالوجي تر سيوري لاندې ددې رواياتو د بنيادو په مظبوطه کولو کښې خپلې شپې او ورځې يوه کړي. پدې حقله يو ليکوال خپل نظر داسې وړاندې کوي چې؛

”کـه مـوږ پـه نړيـوال کلـي کـې لـه خپلـي شـيريني
پښتو ژبـې سـره پاتـه کيـده غـواړو نـو بيـا پـه خپـل
ليـک او خپـل عمـل کـې ډېـر بنسـټيز بـدلون کـوو،
پـه خپلـي رويـې بـه غـور کـوو، پـه خپـل ژبنـي او
ادبـي کـردار بـه دويـم نظـر اچـوو. د ژبنـي او ادب
قيصـې بـه لـه محـدودو کونجونـو څخـه راباسـو. د
عـام اولـس پـه شـريکه بـه يـې پـر مـخ وړو. خپـل
ادبـي موضـوعات پـه پراخـوو، او د خپلـي ژبـي د
بقـا دپـاره بـه نـوي ګامونـه پورتـه کـوو، کـه چيـري
مـوږ پـه موجـوده رفتـار او طريقـه کـار د ژبـي او

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-01

ماخذ تحقیقی مجلہ

ادب و خــدمت تــه جوړېــدلي وو، نــو بــه د
ګلوبلائیزیشــن بښــامار زمــوږ ژبــه او قــام پــه یــوه
ســا داســي تېــر کــړي، چــي هــیڅ نــوم او نښــان بــه
مو پاته نه شي۔"

(تبسم،۲۰۰۷،مخ۶۲،۶۱)

په اولسي ادب کښي د نکلونو ارزښت بیخي زیات دی۔ اولسي نکلونه زموږ د نیکونو تاریخ په لاس راکوي۔ خپل په پخواني کلتور، دودو دستور، رسم ورواج او په مذهبي عقایدو باندي خبره وي ۔ نن سبا ددنیاپر ټولو ملتونو باندي د نړیوال کلي اثرات پراته دي۔ که یو ملت په ارادي ډول اوغواړي چي د ګلوبلائیزیشن د اثره دي ځان وړغوري، دا نه شي کولای ځکه چي دا دور د اقتصادود پیاوړتیا او د ترقی دور دي، نو یو ملت هیچېري هم دا هدف په یوه سر نه شي ترلاسه کولای او مجبوره دی چي د ګاونډي هیوادونو سره ښه اړیکي وساتي۔ نو پداسي حال کښي به خامخا په هر لحاظ څه نا څه بدلونونه راځي، هغه که په ادب کښي وي یا د ژوند د روایاتو په اړه په بله بڼه کښي وي، حتمابه یي قبلوي۔ دلته دا خبره موهمه ګڼم چي د ملتونو او قامونو ترقي او پر مخ تګ دارنګه پکار ده چي د جدید ملتونو سره ځنګ پر ځنګ او وړه په وړه روان اوسي او خپل زاړه روایات هم هېر نه کړي او د خوندي کولو دپاره ترڅو حده ممکن وي ، خپل زیار اوباسي۔

د براهوي ژبي یو ستر لیکوال شاغلی ډاکټر ایم صلاح الدین مینګل د اولسي کیسو (نکلونو) په اړه لیکي چي په اوسني دور کښي ګلوبلائیزیشن (نړیوال کلی) څومره د خلګو په ذهنونو او د هري ورځي په لارو چارو کښي خپل اثرات پرې ایښي دي۔

"بـرا ہـو ئیـک مسـت زمانـہ ٹـی اسـہ جاگـہ تـو سـرہ
ـمـش میـدان نـــے ٹـی تـلارا تـا خڑکـا بھلـو خـاخر
سـینا دامـون اے مـون مـچ مسُـرہ ۔ تینـا مسـت نـا
بھـا درا پہلـوان او بادشـاہ تـا قصـہ غـاتـے شـاغارہ
۔ ہنـدن سـینہ بـہ سـینہ داقصـہ خـاک داڑے
رسـینگار۔ اگـہ داتـے مـچ کـپن تـو خلـیس ارے
کـہ منـہ وخـت آن پـردا قصـہ غـاتـے کسـس ہـم یـات
تخپـر واے ۔ انتیکـہ داسـا دامشـینی یـا زمانـہ ٹـی
هـرکس ادب تہـذیب و ثقافـت آن بھـاز مرتمنگٹـی
اے۔ دے درسـت کـاریم آن پـد کـارہ خـاچرہ۔ ولـے
شـاباس اے ہمـو بنـد غـاتـے کـہ نـن ا و دے کـاریم
آن پرتـو سُـرہ ۔ تینـا بـاوہ پیـرہ نـا کـاریم تـے یات

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-01

کریـــره ۔ ہنـــدن داســـہ ای ایلمـــتـــے آن خواســـت
کیـوه کــہ اوفــک ہــم تینــا بــاوه پیــره نــا رنــدے ہلســا
تینا مُست نا قصہ غاتے گیرام کپس۔"
(صلاح الدین مینگل، ۱۹۹۹،مخ ،۵)

ژباړه:۔ ( براهویان پښوا زمانو کي به په یو ځای را ټول شول. په غرو او میدانو کښی خپل د حجرو تر ځنګ، د تاوده اور شاوخوا به کښېناستل. خپل د پښواني بهادرو پهلوانانو او د باچاهانو قیصې به یې کولې او اورېدلې. دغسي سینه په سینه دا قیصې تر موږه را ورسېدلې. که دغه کیسې موږ راټولي نه کړو نو وېره لرو چي د یو څو مودو وروسته به د هیچادغه کیسې په یاد نه وي۔ځکه اوس په دا مشیني دور کښي هر سړی د ادب،تهذیب او ثقافت څخه بېخي لري کېدونکی دی۔ د ټولي ورځې د کار وروسته ویدېږي۔ خو آفرین دي وي پر هغو خلکو باندي چي د شپې او ورځې د کار روزګار وروسته به هم کښېناستله۔ خپل د پلار او نیکونو کارنامې به یې یادولې۔ دغه رنګه ځه خپل د وروړو څخه دا خواست کوم چي دوی هم خپل د پلار او نیکونو په لاره روان شي او خپل پښواني کیسې هېري نه کړي۔)

د نړیوال کلي بنیادونه د لویدیځو هیوادونو سائنسي پرمختګ دی. ګلوبلایزیشن د مختلفو هیوادونو ترمنځ د اقتصادي اړیکو پراختیا ته اشاره کوي چي پایله یې د نړیوال اقتصاد رامینځته کوي. چې هر ملي اقتصاد یې د نورو هیوادونود اقتصاد محتاجه کړی دی. هیڅ هیواد په ځان کښي پوره نه دی ټول یو بل ته اړتیا لري چي د نورو هیوادونو سره محصولات تبادله کړي له همدې وجي د نړیوالتوب مکمله اختیار د لویدیځو(مغربي) هیوادونو تر اغېز لاندي دی. د ګلوبلایزیشن پرمختګ نړۍ په یوه کلي بدله کړې ده ،او د اړیکو پرمختګ خلګ یو بل ته دومره نږدې کړي دي چي په امریکا کښي ناست سړی په پاکستان کي له هر چا سره داسي خبري کوي لکه د یو بل سره مخامخ ناست وي۔ همدا ډول چي د نړۍ په یوه کونج کښي یوه پېښه اوشي ،د نړۍ په بل کونج کښي ناست کس د ډش، تلویزیون، انټرنېټ، موبایل او داسې نورو په مرسته په څو ثانیو کښي سم دستي په خبرېږي۔

د نړۍ په ټولو ملتونو باندي د ګلوبلائیزیشن اثرات له ورایه ښکاره کیږي۔ او په خاصه توګه دا اثر په وده کونکوغریبو هیوادونوکښي استوګن قامونه او ددوی پر ژبو باندي معلومیږي۔ د مثال په توګه که چیري پښتو او براهوي ژبو د سائنسي ټیکنالوجي څخه استفاده نه وائي اخستې نو نن به د نړۍ په هغو ژبو کښي شاملي وائی کوم ژبي چي د سره فنا شوي دي او په ورکېدو یا په

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-01

ختمېدو دي۔ لکه څنګه چي ددې ذکرل يو ليکوال په خپل کتاب کښي دا رانګه کوي؛

” د ژبو په اړه نړيوال تحقيق موږ ته دا را ښيي چي په نړۍ کي دا وخت ۶۸۰۹ ژبي ويل کيږي۔ په دې کي ۳۳ فيصده په ايشيا کي، ۳۰ فيصده په افريقا کي، ۱۹ فيصده په پيسيفک کي، ۱۵ فيصده په شمالي او جنوبي امريکه کي او ۳ فيصده په يورپ کي ويل کيږي۔ په دي ۶۸۰۹ ژبو ۴۱۷ ژبي و مرګ ته نږدې دي، ولي ددي ژبو په شمېر څو ويونکي ژوندي دي، ددغه څو ويونکو د مرګ سره به دا ۴۱۷ ژبي هم مړې شي۔ په دې فنا کېدونکو ژبو کي ۵۵ ژبي په ايشيا کي،۳۷ په افريقه کي، ۱۵۷ په پيسيفک کي،۱۶۱ په شمالي او جنوبي امريکه کي او ۷ په يورپ کي دي۔ څه داسي شواهد هم موجود دي چي په تيره پېړۍ څه شپږ سوه ژبي فنا شوې دي او اوس د دغو ژبو يو ويونکی هم موجود نه دی۔ دا د ژبو په اړه يو ډېر خطرناک صورتحال دی۔ چي موږ په وړاندي دی۔ له دې سره سره دا يو داسي چيلنج هم دی، که پر وخت ونه سنجول شو نو نتيجه به يې تر دې هم زياته خطرناکه وي، ولي چي د هري فنا کېدونکی ژبي سره سره د هغه ژبي ادب او قام به هم د تل دپاره فنا شي۔“

(عارف تبسم ، ۲۰۰۷،مخ ۴۹)

نړيوالتوب زموږ پر ټول ژوندون باندي خپل اغېزي کړي دي۔ د نړۍ د ټولوخلګوپه فکرونو باندي يې خپل اثرات پرې ايښي دي۔ د نړيوالتوب له امله په معلوماتو کښي اضافه شوې ده۔ اوس د يوې مملکتي پيښي څخه ټوله نړۍ په يو ساعت کښي خبريږي۔ نړيوال کلي ټوله هيوادونه سره نږدې کړي دي۔ چيري چي د نړيوال کلي څه فائدې په نظر راځي، دغه رنګه څه تاوانونه هم په سترګو کيږي۔ د انټرنيټ ببخي زيات استعمال داکثره خلګو ذهنونه مفلوجه کړي دي۔ داکثره خلګو ذهنونه د نوي نوي شيانو په سنجولو کښي بوخت دي، نو خود به د زړو او لرغونو شيانو په ارزښت کښي څه ناڅه کمبوت راځي۔

ماخذ تحقیقی مجلہ
ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-01

په پښتو کښي يو زوړ روايت دی چي " خپل مال خوندي کړه او همسايه مه غل کوه۔ نواوس پکار دی چي موږ د نړۍ د سائنسي ايجاداتو څخه پوره پوره استفاده واخلو اوخپلي لرغوني ادبي پنګي او روايات که د اولسي کيسو په صورت کښي دي او يا که په بل صورت کښي ، له منځه ورکي نه کړو، او دا رنګه يې خوندي کړو چي راتلونکي نسلونه په دې جديد نړيوال کلي کښي د ګاونډي قامونوسره سم د سيالۍ دپاره دي ځان جوګه کړي اوورسره ددې زړو رواياتو څخه په زړه پوري ګټه تر لاسه کړي۔ کوم جديد وسايل چي په دې ميدان کښي شته لکه فلمي صنعت، ډرامې، ويژول او داسي نور۔ پکار ده چي موږ خپل ټول اولسي نکلونه په فلمي شکل واړه وو، او دا په خپل اصلي شکل لکه څنګه چي ليکل شوي دي هم دا رنګه يې ډرامتائيز کړو يا يې په بيانيه بڼه خوندي کړو۔ او دا ټول شيان د يو ټيوب او نورو رسنيو له لاري خپل اولس ته وړاندي کړو۔ دا رنګه به اولسي نکلونه هم د تل لپاره خوندي شي او نوی نسل به هم له دې شيانو سره بلد شي او داسينه په سينه به د نوي ټيکنالوجي له لاري خوندي پاته شي۔

**حوالي**


۱۔ ژړک، صادق، *پښتونواله*،(۲۰۱۷)، پښتو نړيواله مرکه،مخ(۳۲۸)

۲۔ کاکړ،سيال، *پښتو نکلونه*،(۱۹۷۹)، کوټه، پښتو اکېډمی، مخ (۳۶،۳۷)

۳۔ عابد،عابدشاه،سيد*،اولسي نکلونه،(* ۱۹۷۲)، د سرور سودايي اولسي نکلونه سرليک، کوټه، پښتو اکېډمی بلوچستان ، مخ(۵،۶)

۴۔ تبسم، عارف، *پښتو ادب او نړيوال کلی*،(۲۰۰۷)،کوټه، غزنوي خپرونديه ټولنه،مخ (۶۱،۶۲)

۵۔ مينګل، ايم صلاح الدين، ډاکټر، *براهوي خلقي قصه غاک*،(۱۹۹۹)، کوئټه، براهوي اکيډمي (رجسټر) پاکستان، مخ (۵)

۶۔ تبسم، عارف، *پښتو ادب او نړيوال کلی*،(۲۰۰۷) ،کوټه، غزنوي خپرونديه ټولنه،مخ (۴۹)